خوازک عبید ۲۰۱۰/۰٤/۱۳م

# دسولی مشورتي جرګه

جرګه دافغانستان په تاریخ کې پخوانی قدامت لري، افغانان اوس هم اکثره مسائل خصوصاً په قبایلي سیمو کې دجرګې له لاري حلوي، او افغانان په تیره بیا دولس اکثره خلک ورته خوشبین وي اوپه ربښتیا چې اکثره یې ښې پایلې هم لرلي دي.
جرګه په هراړخیزه مسایلو باندي رابلل کیږي چې کله راوبلل شي مسئله رامینځ ته کیږي او ورباندي بحث کوي. کله کله د دوو فریقینو ترمینځ یوه جرګه رابلل کیږي، د جرګې مشران روغه او سوله کوي بیا یوشرط هم ورته وړاندې کوي چې په بیلا بېلو نومونو یادیږي لکه تیره، مچغله او داسي نور.
داچې اوس زمونږ خپل هیواد یعني دجرګو کور له ډیروخته او بیا په تیره په دې ورستیودرې لسیزو کې په خپل منځي او دبهرنیوو قواوو څخه وخت په وخت په جنګونو کې ښکیل دي، د ډیر افسوس خبره ده چې مونږ خپله دشمن ته ځان دومره ضعیف کړی، چې دشمن آزاد په مونږ راځي او زمونږ په ملک چې څه یې خوښه وي کوي یې . نه غواړم چې له اصلي موضوع څخه ووځم، خو بیاهم اخر خبره په جرګې پوري تړاو پیداکوي.
طبعاً جرګه هغه وخت رابلل کیږي چې ضرورت پیداشي ، فعلي حالات چه ورځ په ورځ د خرابیدو خواته روان دي ډیر داندیښني وړدي، خوپه هرصورت دغه جرګه چې اوس اوس رابلل شوي ده ، ډیر پرځاي او دوخت د ضرورت په لحاظ یونیک قدم دي.
معلومه خبره ده چې هرکار چې کیږي دیوخاص هدف دلاس ته راوړني لپاره کیږي نو جرګه هم باید یوخاص هدف و لري ترڅو د دغوخلکو راغونډیدل او دوخت او ددولت سرمایه پر ي بیځایه نه وي مصرف شوي، نو باید یوه ښه لاس ته راوړنه ولري.
داچې دجرګې اجنډا، د دولت له مخالفینو سره د خبرو او مذاکرې ترسره کول دي، چې دچاسره دچا په واسطه کله اوڅنګه خبري وشي.
هره جرګه چې جوړیږي او د خلکواعتماد ورباندي وي نوهرکله چې بیا جرګوکومي پریکړي کړي دي هغه پریکړي بیا په هرقیمت د منلووړدي، دا خو حتماً دحکمت نه ډک کاردي خو دلته یواځیني کار چې دغه ټولو خبروته جواب و وایي هغه دجرګې اساسي تشکیل دی. چې جرګه به دکومو اشخاصو څخه جوړه شوي وي، څوک یې رهبري کوي، اوشرکاء او اراکین یې څوک دي، دا به ښه وي چې جرګه کې هغه کسان وي چه په ریښتیا یې دملک په دردمن او کړیدلي ولس زړه دردمند شوي وي او دشهیدانو، کونډو او یتمانو د هیلو او ارمانونو لوړا حساس یې لرلي وي ، د ابادي او سوکالي فکریې کړي وي او د افغانستان په ټوله معنا هغه که اقتصادي، اجتماعي ، ټولنیز، سیاسي او دبیا رغوني مسایل وي ښه یې درک کړي وي. که چیري په ربښتیا همدغسي اوصافو باندي موصوف کسان را وبلل شي انشاء الله ډیرژربه افغانستان کې یوه ډادمنه سوله راشي او یوازاد، سوکاله او خپلواک افعانستان به جوړشي.
خدای دې وکړي چې دغه جرګه یوه داسې جرګه وي چې نور دغه بیځایه وروروژنه، قتل اوغارت، غمونه او دردونه دتل لپاره ختم کړي، او نورد دې مظلوم او ځوریدلي ملت ظلمونوته دپاي ټکي کیږدي، او پریږدو چې د دغه غریب او بېوزله ملک بچیان مو په آرامه فضا کې تحصیل وکړي ، تجاران موتجارت، دهقانان موکښت او معلم موراته دغه ټولنه دعلم او عرفـان خواته بوځي، دخپلومشرانواو علماوو خبرې ومنو، تر څویوه د خیر او دملت لپاره ښه پریکړه راپیداشي . ځکه همدغه علماء او مشران دي چې نن یې مونږ ته دسمي لاري ښوونه کړې ده او خدای پاک دې زمونږ مشران نیکان کړي او د ښواوصافو خاوندان دې شي چې ریښتیا یې دخپل ملت په سمه توګه رهبري او مشري کړي وي. راځې چې د پاکوصحابه رضوان الله علیهم اجمعین یوڅو واقعوته وګوروچې هغوي څنګه مشران وو، یوځلي دحضرت عمر(رض) د اوربشوډوډی خوړله چې په ډوډې کې یې بوسکي وو یو چا ورته وویل چه حضرت صاحب تاسو ولي چاڼ کړي ډوډي نه خوري! هغه مبارک ورته وویل :چې ته خبرېې چې زما قوم ټول چاڼ کړي ډوډي خوري او که نه، او یوځلي فرمایې چې که د دجلي دسیند په غاړه یوه وزه تږې وي دهغې به هم مانه الله پاک د قیامت په ورځ پوښتنه کوي، د هغوي واقعیات خوډیرزیات دي خوالله دې وکړي چې مونږ هم دهغوي په نقش قدم باندي لاړشو.
راځې چې دغه بیځایه فوقیت او تعصبات هغه که ژبني، قومي، اوسمتي وي پریږدو او دتل لپاره ورته دپاي ټکي کیږدو، ځکه چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائې: تاسو کې تور په سپین او سپین په تور، عرب په عجم او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

عجم په عرب کوم فضیلت نه لري فضیلت صرف په تقواکي دی، نوراځئ چې د خپل خوږ نبي دغه دپند او عبرت نه ډک فرمان په سرسترګوقبول کړو.

د جرګي دتشکیل برخه چې د دولت له خواپلان شوی، په هغه کي اجنډا، وخت او کسان ښودلي او ذکرکړي دي. د غونډې ګډونوال يې په ۱۳ کټه ګوريو ويشلي دي، لکه: د ملي شورا د دواړو مجلسونو غړي، د مشرانو جرګې پخواني سناتوران، له ولايتونو او ولسواليو څخه قومي مشران، د کابينې غړي، د افغانستان د علماوو د سرتاسري شورا غړي، د سترې محکمې غړي، سلاکار وزيران، د ټولو کمېسيونونو او د خپلواکو ادارو رييسان په ګوته کړي دي. په رښتيا چې جرګه خو دتشکيل له لحاظه هراړخيزه ده چه هغه دچاخبره ښځوته يې هم ګډون ورکړی دی، ترڅوښځې هم خپل د ښځوپوري مربوطې چارې د جرګې د ګډون والوسره شريکې او مشکلاتو د حل لارې چارې پيداکړي.

په اخرکې يوي خبرې ته اشاره کول غواړم چې انشاءالله دجرګې ګډون کوونکي به ورته متوجه وي، خو بيا هم يو تعداد هغه مسائل چې تراوسه پورې دولت نه دي توانيدلي په جرګه کي يادې کړي او ورته د حل لارې چارې ولټوي:

۱ . دبهرنيو قواوو له افغانستان څخه وتل دي دوي ته دي مهال ويش جوړکړي ترڅو د دي خاورې څخه ووځي او که دلته ترهروخت پورې وي، نوپر ولسي خلکودي بيځايه بمباردونه او وخت نا وخت د دوي دکورونو تالاشي ګاني نه کوي.

۲ . دګاونډي هيوادونو سره راشه درشه ده چې په دغه ورستيو درې لسيزو کې مونږ د دغه هيوادونو سره لرلي دي دغه مناسبات په خپل ځاي پاتي شي هغوي دلته ځي راځي او مونږ هلته کوم خاص پابندي نه وي چې دغه دسيمې او دسيمې په هيوادونو ښه اغيزه کولاي شي. او هلته ميشت افغانان دعزت نه ډکي شپې او ورځي ولري.

۳ . بريښنا چې افغانستان اولس تراوسه هم د دغي لوي نعمت څخه محروم دي د دي لپاره لاري چاري ولټول شي او د افغانانو هريوکورته د دولتي بريښنااسانتيا ورکړي.

٤ . ګازچې دهغه چاخبره ډيروملکونو دانه پيژنده او زمونږ ملک کي يې شتون درلود، خو له بده مرغه چې مونږ ورڅخه محروم وو او يو اوس هم دلاتين رڼاته ناست يو.

٥ . دصحي مراکزو په مدرنو وسايلو ابادول چه ترڅو مونږ بهرملکوته د مريضانو دليږلوڅخه خلاص شو.

٦ . سړکونه راته جوړشي ترڅومو خپل ټول تجارتي لارې سمې وي او مشکلات موتر ډيره حل شوي وي.

۷ . هيوادوالو ته د کمپيوترايزشوېوهويت کارتو نو وېش، چې په هويت پيژندنه کې کوم مشکل نه وي رامينځ ته شوي، په تېره بيا چې اوسنۍ تکنالوژي دا چاره ډېره اسانه کړې ده.

په اخرکې دغې جرګې ته دخيردوعا دخپل متعال خدای(ج)څخه کوو او خدای پاک دې دغه جرګه په خپل حفاظت کې وساتي او الله پاک دې ورڅخه دخير او دصلحې نه ډک پيغام زمونز دولسونوپه برخه کړي.

امين


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ